د افغانستان اسلامي امارت

ستره محکمه

د دارالانشاء عمومي رياست

د تحريراتو آمريت

د متحدالمآلونو څانګه

نېټه: ۱۴۴۴/۱۰/۲۶ هق

عاجل ☐ عادي ☐ اطمينانيه ☐ ابلاغيه ☐ ساير ☐

د متحدالمآل ګڼه: ۵۱

---

د افغانستان اسلامي امارت د تميز ونو ، دېوانونو، مرافعه او ابتدائيه محکمو قدرمنو منسوبينو ته!

السلام عليکم ورحمت الله وبرکاته

وبعد : په تاريخ ۱۴۴۴/۱۰/۲۰هق چي د ۱۴۰۲ هجري لمريز کال د ثور مياشتي د شلمې (۲۰) نيټي سره سمون خوري، د افغانستان اسلامي امارت د ستري محکمې د عالي شورا غونډه دائره شوه چي د يادي غونډې دويمه موضوع داسي وه: ((د ځيني محاکمو استهدآآت رارسيدلي دي چي خلاصه يې داسي ده: يوه موضوع څو جهتونه لري د يوه جهت په لحاظ د يوه ديوان مربوط وي د بل جهت په اعتبار د بل ديوان مربوط وي لکه: تجارتي دعوه وي دائن د پور او د فريبکارۍ دعوه پر مديون لري.

اوله دعوه يې د تجارتي ديوان دوهمه يې د امنيت عامه ديوان مربوط ده يا په حقوقي دعوه کې جنګ سوی وي مربوطه ديوان يې حقوقي اړخ خلاصوي جزائي اړخ يې بل ديوان ته استوي، چي په دې ترتيب سره د خلکو د يوې موضوع حل او فصل د مياشتو پر ځای کله کلونه وخت نيسي په اړه يې چي څرنګه هدايت وي د هغه سره سم به اجرآآت ترسره شي.))

په اړه يې د ستري محکمې عالي شورا د تصويب نمبر(۳۸)مورخ۱۴۴۴/۱۰/۲۰هق د دويمي پريکړې په اساس داسي هدايت وکړ: ((هغه موضوعات چي څو اړخونه لري په هغو کې دي محاکم د موضوع اصل او فرع سره جلا کړي د کومي محکمې يا ديوان سره چي د موضوع اصل تعلق درلود هغه محکمه يا ديوان دي د موضوع ټول فرعي جهتونه د اداري اصولنامې د (۸۹) مادې مطابق د اصلي دعوې سره يو ځای په اصولي طريقه فيصله کړي.))

بناءً د افغانستان اسلامي امارت د ستري محکمې د عالي شورا پورته تحرير شوی هدايت د دې متحدالمآل په توسط د افغانستان اسلامي امارت د ستري محکمې مربوط رياستونو، تميزونو، ديوانونو، مرافعه او ابتدائيه محکمو ته واستول شو تر څو د هغې په رڼا کې شرعي او اصولي کړني تر سره شي.

په درنښت

۲۶ / ۱۰ / ۱۴۴۴ هق

ستره محکمه رياست عمومي دارالانشاء

مفتي عبدالرشيد "سعيد"

د ستري محکمې

د دارالانشاء عمومي رئيس

Address: Public health Square 9th District, Kabul-Af
Phone: 0202301138
Post box: 1989
Website: www.supremecourt.gov.af

پته: د صحت عامې څلور لارې، نهمه ناحيه، کابل- افغانستان
تيلفون : ۰۲۰۲۳۰۱۱۳۸
پست بکس : ۱۹۸۹
secretariat@supremecourt.gov.af